مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهنمل حاجی محمد نوزادي ۲۰۱۹/۰۲/۱۹

# د مورنۍ ژبي د نړيوالی ورځی په پلمه




د روانی فيبروري مياشتي په ۱۶ نيټه د ډنمارک هيواد د وايله په ښار کي د نوموړي ورځي لمانځغونډي سيمينار ته ور بلل شوی وم . په سيمينار کي مي د وينا متن دادي ستاسی سره هم شريکوم:

خوښ يم چي نن يو ځل بيا ددغي ورځي په اړه د افغانستان ملي تحريک په نوښت د ډنمارک ميشتو فرهنګپالو افغانانو  لخوا په را بلل شوي غونډه کي د هيواد په کچه د وړتيا لرونکو پوهانو او څيړونکو سره يو ځای د مورنۍ ژبي پر شاوخوا را ګرځو او خپل د نظر ټکي يو د بله شريکوو  .

د مورنۍ ژبي تر نامه لاندي دا نړيواله ورځ له هغه وروسته هر کال د فيبروري په ۲۱ نيټه لمانځل کيږي چې په ۱۹۵۲ کال کې په مشرقي پاکستان يانې اوسني بنګله دېش کې پوليسو پر هغو بنګالي زده کوونکو باندي ډزي وکړې او هغوي يې وژل ، کومو چې په مورنۍ ژبه د زده کړو غوښتنه او هڅه کوله . دا د فيلډ مارشال ايوب خان د واکمني مهال وو چې چارواکو يوازي اردو ژبه د هيواد د ملي ژبي په توګه د رسمی چارو او تدريسي نصاب د پر مخ بيولو د پاره ټاکلی وه . بنګاليانو ددې پريکړي له منلو څخه انکار وکړاو په يوه يا بل ډول به يې پخپله ژبه د زده کړو هلي ځلي کولې  .

انسانان په خپل ورځني ژوند کي د ټولنيزو مناسباتو د ساتلو ، راکړي ورکړي او د ژوندانه د ټول معنوي اړخ د ښه سمبالښت په موخه پوهيدو او پوهولو ( افهام او تفهيم ) ته اړتيا لري او دا پوهيدل او پوهول د ماشوم د زيږيدني له ګړيه بيا تر اخيرني ساه کښلو پوري دوام مومي .

مورنۍ ژبه هغه وسيله ده چي نوی زيږيدلي ماشوم د لومړي ځل د پاره د مور په توده او د ميني ډکه غيږه کي  د کورنۍ د غړو سره اړيکي ور باندي نيسي ، خپلي غوښتني ځرګندوي او د لاري يې د ګرانښت کلمې اوري . دا هغه څه دي چي پر بنسټ يې متقابله مينه ټينګيږي او يو پر بل اړين ډاډ پيدا کيږي  .

که دا وسيله دمور له غيږي نه را پيل کړو ، بيا نو د وطن نه ليري د مهاجرت په شرايطو کي سره لدې چی د کورنۍ اقتصادي ژوند ښايي په پلرني وطن کي د ټولني تر لويي برخي وګړو ښه وي ، مګر هغه څه چي ماشومان او مور او پلار ترې نه محروم دي ، هغه يو بل ته په مورني ژبه د ميني او ګرانښت ځرګندوني دي . ددغي پديدې کمښت او نه شتون بيا د معنوی ژوند هغه برخه ده چي په هکله يې ځانګړو څيړنو او سيمينارونو ته اړتيا ده او د نننۍ پښان غونډو د زغم نه بهر ده  .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

په ټولیز ډول د ژبي په څېړندود کي ادبپوهنه ، ژبپوهنه او پدې
وروستيو د دغو دواړو برخو ګډولي د ادبي ژبپوهني په توګه دود
موندلی دي . دا ځکه چي ادبپوهنه هم پخپل وار په اړينو څېړنو کي
د ژبپوهني د يو لړ پرنسيپونو سره اړيکي لري . البته ادبيات د ژبني
پرنسيپونو په توګه ځانته خپل څېړندود او لاري چاري پالي .


د مقالي ليکوال ښاغلی پوهنمل نوزادي

مورنۍ ژبه د يوه ځانګړي شخص يا قوم مال ندی ، بلکه د بشر د حقونو په لړ کي مورنۍ ژبه د هر انسان يو ډير برجسته حق دی چي د هيوادونو حاکم نظامونه ددغه حق د پوره کولو دنده لري . زموږ ګران هيواد افغانستان چي ښايسته ډير قومونه يې د بڼ ګلان جوړوي او د هر ګل و غوټيو ته بايد د غوړيدلو لاره پرانيستل شي د نيکه مرغه د ټولو قومونو د پاره اوسمهال دا حق منل شوي چي پخپله مورني ژبه د زده کړو امکانات ولري او د خپلو وګړو د کچي له مخي په متوازن ډول پرمختګ وکړي . پښتو او دري چي د هيواد په کچه رسمي ژبي ټاکل شويدی ، د دواړو ژبو د ودي د پاره و يوه مناسب توازون ته بايد پام واړول شي . زه پدې ډير خوښ يم چي دري ژبه مو د پيړيو په اوږدو کي د يوې خوا د فارسي ژبي سره د ګډو ريښو او د بلي خوا پخپل هيواد کي دا چي د واکمنو نظامونو کورنۍ ( نه مورني ) ژبه يادېده او درباري ژبه بلل کيده ، تر ډيره حده کار ورته شويدی او ويلای شو چي اوس په بشپړ ډول يوه ستنډرډ ژبه ده ، مګر پښتو ژبه . . . . دا ژبه دي د بلا هيره شي ، له بده مرغه د خپل ټول واکمن نظامي پوټنشيال سره سره د يوې ژبی په توګه په راکړه ورکړه او ټول مروج دفتري نظام کي په بشپړ ډول له ياده وتلې او يوازې د شفاهي ژبی په کچه پاته وه .

هر چا چي به د واکمن نظام سره کورنی اړيکي درلودي او يا به يي شتمني درلوده ، نو ددې د پاره چي ځان برجسته وښئي ، هغه به که له آره د پښتو ژبی ويونکی هم وو ، کوښښ به يي کاوه چي پښتو و نه وايي . له همدې کبله دا متل د عام و خاص په خوله کي خپور وو چي « موږ نس فارسي وايي » . ددغي خبري د پوره برجسته کولو د پاره يوه بيلګه راوړم . په تيرو پخوانيو رژيمونو کي يو لوړ پوړی چارواکی چي زما ورسره شخصي انديوالي وه ، يوه ورځ دده په ګډون څو تنه ټول پښتو ژبي کسان په يوه باڼدار کي سره ناست او غوږي مو کولي . کله چي وار و دغه محترم پخواني لوړ پوړي چارواکي ته ورسيد ، هغه وويل چې زه په پښتو خبري کولو ستړی کيږم ، نو اجازه راکړی خپل مطلب په دري ژبه درته ووايم .

د لوړي او نورو ورته بيلګو څخه په جوته مالوميږي چي په پښتو ژبه خبري کولو کوم معنوي ارزښت نه درلود او په رسمياتو کي يي ګويا د کارولو وړتيا نه درلوده . د همدغه ذهنيت پر بنسټ وه چي ژبي خپل درونډوالی له لاسه ورکړي وو . ښه مي پياد دي : د هلمند ولايت په نوزاد اولسوالی کی چي د ټولي سيمي اوسيدونکي پښتو ژبي خلګ وه ، د څلورم ټولګی زده کړي وم . يوه ورځ د پښتو معلم صاحب راته وويل چي په خپل سر غيرحاضري مه کوئ ځکه چي سرمعلم صاحب مو بيا ډوبوي ، يوه هلک پوښتنه وکړه چي که مريض شوو ، بيا څه وکړو ؟ معلم وويل چي يوه رقعه نوشته او د خپل يوه همصنفي پلاس يی را وليږي . موږ چي « رقعه » هيڅ نه پيژندل او نه مو ليکلای شوه ، ښوونکي صاحب چي ښه مهربانه سړي وو ، د ټولګی پر توره تخته يي داسی راته و ليکل : « جناب محترم سرمعلم صاحب ! نسبت مريضي که دارم ، به دروس خود حاضر شده نمي توانم . اُميد است غيرحاضر معامله نه شوم . با احترام . د شاګرد نوم » . دا چي زه د ټولګي اول نمره وم ، رقعه مي تر ټولو ژر ياده کړه او ځان به ډير پياوړی راته ښکاريدی چي زه په فارسي ژبه « رقعه » نوشته کولای شم . موږ هغه مهال داسی فکر کاوه چي دا ډول شيان يا په پښتو اصلاً نوشته کيدلای نشي او يا يي نوشته کول منع او لوی جرم دی ، ځکه نو بايد ډډه تريې و کړو . لوړي بيلګي ته ورته په زرهاوو داسی بيلګي شته چي د پښتنو د مورنی ژبي خوار زار حالت څرګندوي .

مورنۍ ژبه ده چي کلتور له يوه نسل څخه بل نسل ته انتقالوي او د کلتورونو د له منځه تللو څخه مخنيوی کوي . ددي د پاره چي يوه ژبه وکولای خپله دغه ټولنيزه دنده تر سره کړي ، پکار ده د يوه منل شوي ستندرد په چوکاټ کي را ونغښتل سي . هيڅ يوه ژبه نشي کولای د شفايي لاری و نوموړي ستندرد ته ځان ورسوي . اوس هغه وخت تير دي چي کلتورونه به د شفايي ادب د لاری د يوه نسل نه بل ته ليږدول کيدل .
د ژبي د پاره د ستندرد اصلي بنسټ واحد ليکدود دی . ددې خبري مانا داده چي د ژبي په ټول قلمرو کي بايد ليکني که نظم وي يا نثر په يو ډول ليکدود باندي تر سره شي . د پښتو ټولني لخوا د واحد ليکدود په اړوند پخپل وخت کي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

د قدر وړ کارونه وشوه او په بره پښتونخوا کې یو منلی لیکدود تر یوه ټاکلي بریده مخته ولاړ . له بده مرغه په وروستیو څلور لسیزو کی چې د یوې خوا پښتو ټولنه منحل او د بلی خوا هیواد په ټپل شوي جنګ کي شکیل پاته شو ، دا د ستندرد کیدو زرین مهم اصل ورځ تر بلې د کمزوري کیدو خواته ولاړ . پدې وروستی یوه نیمه لسیزه کي د فیسبوک په غوړیدو سره د ژبي ټول اصول د ګرامره نیولي تر لیکدوده پورې یو ډول بې مانا مفاهم و ګرځیدل او یو په بل پسې تر پښو لاندې شول . په خواشینی سره باید ووایم چې په دغه منفی چارو کی د هیوا د ختیزو او جنوب ختیزو پښتو ژبو هیوادوالو ډیر رول درلود . دغو وطنوالو د پښتو ژبې د اتو اصلي تورو لکه ( ټ ، ځ ، ډ ، ړ ، څ ، ڼ ، ږ ، ښ ) څخه اخیرني دوه توری چې پښتو ژبه پرې « خوږه او ښکلې » وه یاني « ږ » او « ښ » د خپل ګړدود پر بنسټ له ژبی بیخی و ایستل چې د « ږ » پر ځای « ګ » او د « ښ » پر ځای « خ » په نظم او نثر کي کاروی . زما په آند دا نه یوازې تیروتنه بلکه د پښتو سره لویه جفا ده . هیله ده موږ هر یو دغه تیروتي کسان پوه کړو څو ددغه جفاکارانه عمل څخه لاس واخلي . البته دوی حق لري چې تلفظ یې په « خوګ او ښکلي » سره وکړي ، مګر سوچه پښتو حروف له لیکدود نه ایستل و ژبی ته بې احترامي ده .

**د اوس د پاره همدومره.**

**د مورنی ژبی د غوړیدو په لور!**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ